# اې ابو المنذره، ته پوهېږې چې د الله په کتاب کې تاسره کوم آیت تر ټولو لوی دی؟» وایي: ما وویل: {اللهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: 255]. (الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام کوونکی دی)وایي: نو زه یې په سینه کې ووهلم او ویې ویل: په الله قسم، چې علم دې درته مبارک شي (علم دې درته اسان شي) اې ابو المنذره

له ابی بن کعب رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «اې ابو المنذره، آیا ته پوهېږې چې د الله په کتاب کې تا سره کوم آیت تر ټولو لوی دی؟ " هغه وویل: ما وویل چې : الله او د هغه رسول ښه پوهیږي. هغه وفرمایل: « اې ابو المنذره، ته پوهېږې چې د الله په کتاب کې تاسره کوم آیت تر ټولو لوی دی؟» وایي: ما وویل: {اللهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ} [البقرة: 255]. (الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام کوونکی دی)وایي: نو زه یې په سینه کې ووهلم او ویې ویل: په الله قسم، چې علم دې درته مبارک شي (علم دې درته اسان شي) اې ابو المنذره».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له اُبی بن کعب رضي الله عنه څخه د الله په کتاب کې د تر ټولو لوی آیت په اړه ځواب کې زړه نازړه شو، بیا یې وویل: آیت الکرسي دی {الله لا إله إلا هو الحي القيوم}:پوښتنه وکړه، نو هغه په یعنې (الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټولې نړۍ انتظام کوونکی دی) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې تایید وکړ، او رسول الله - صلی الله علیه وسلم - په سینه کې وواهه، معنا یې دا وه چې سینه یې له علم او حکمت څخه ډکه ده، او دعا یې ورته وکړه چې پدې علم دې نېکمرغه شي او ورته دې آسان شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65059